# د هېڅ مسلمان وینه له دریو حالتونو پرته تویول روا نه دي

له ابن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دی وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي: «د هېڅ مسلمان وینه له دریو حالتونو پرته تویول روا نه دي: واده شوی زناکار، د قصاص په حق کې (د نفس په بدل کې)، او هغه څوک چې خپل دین پرېږدي او له جماعت څخه جلا شي».

[صحيح دی] [متفق علیه دی]

نبي صلی الله علیه وسلم څرګنده کړه چې د مسلمان وینه تویول حرام دي، مګر دا چې له دریو کارونو څخه یو ترسره کړي: لومړی دا چې: څوک په زنا ګناه کې واقع شي حال دا چې په صحیح عقد سره یې نکاح کړې وي؛ نو په رجم سره یې وژل روا دي. دویم: چا چې بې ګناه نفس په قصدي توګه وواژه، نو د شرطونو مطابق دی هم باید ووژل شي. دریم: دا چې څوک د مسلمانانو له جماعت څخه جلا شي؛ یا دا چې په بشپړه توګه اسلام پرېږدي او مرتد شي او یا دا چې مرتد نه وي خو له ډلې جلا شي لکه باغیان، لاره شکوونکي غله او د خوارجو جنګیالي او داسې نور.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/4714

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee